آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۸/۱۵

# زما یادونه

د ککرۍ له گومبزۍ مې یادونه
نه راوزي که هر څو تنگه ده خونه

زه له خپلو یادو څو ځل تښتیدلی
دوی راپسې دي، لکه موج، پسې موجونه

له هر یاد نه مې بلا راته ده جوړه
دغه هره بلا نور خپل لري ورونه

هر گرځني کې لښکر، لښکر ولاړ وي
د بلا بچیان یو لاس وي په چمونه

ما ویل خپل یادونه وسیزم په اور کې
مگر اور یې بلوي راته اورونه

زما یادونه که رنگه که تور و سپین دي
را ته لیږي هره سا کې نور تورونه

تیښته چیرې په کوم لوري ځینې وکړم
چې دنیا له بلا ډک په قدمونه

هڅه هاند مې د خلاصون ځینې ډیر وکړ
په لیکلو مې ډک کړي دفترونه

۲۰۱۷/۰۸/۱۲
هیدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ